شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲/۱۰/۰۳

# افغانه مور وايي

ز ه خپلي مور يمه روزلي محبت زانګو کي
زه يمه روزدي د خوږي غيږ په للو کي

د خواخوږۍ او ميني شور مي پر زړګي پاتي دی
پر لمر ميينه سپوږمۍ تاوه ځي تودو شغلو کي

رب (ج) په خلقت کي د انسان خته پر عشق لمده کړه
د انساني ژوند د پايښت خوند په جلا رنګو کي

اوس يم افغانه مور اولاد مي خپل روزلی داسي
يو موتي خاورې په ساتنه، د جګړې په شپو کي

زموږ په دود کي نه وه کرکه ځانځاني ناپيژاند
خو دا بلا له دوښمن راغله په ترخو شيبو کي

چي اهريمن يي ډوبوي د بپوسيو حد دی
لا تنکي ژني مو رالويږي د شيطان په پښو کي

له خاورې لرې، چي پردو ته ځان نږدې وګڼي
هغوي د ولس له نظر پريوځي، تل شک ځپو کي

هاجرې اوبه يوو د يو سين په ډانګ بيليږو کله
موږه ګلان د يو ګلبڼ په بيلا بيل رنګو کي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ